## د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د رسنیو مرکز ته لاسرسی

د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د رسنیو مرکز د رای اچوني او رای شمیرني، د پایلو د جدول بندئ او پایلو د اعلانولو په ګډون د ۱۳۸۹هـ ل کال د وږي د ۲۷مي نیټي د ټاکنو د بهیر اړوندو ټولو اعلانونو کوربه توب کوي. د ځای او امنیت د محدودیتونو له کبله لاسرسی یوازې له نیغ په نیغه ښکیلو غاړو پورې محدود دی. دا سند د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د رسنیو مرکز ته د لاسرسي لایحه روښانوي.

### رسنۍ

هغه کورنۍ او بهرنۍ رسنۍ چې لا له وړاندي یې د ټاکنو له خپلواک کمیسیون څخه باورلیکونه تر لاسه کړي دي، د ټاکنو د خپلواک کمیسیون له خوا ورکړل شوي باورلیک او د اړوندې ادارې د کارت په ښوولو سره د رسنیو د مرکز په کاري وختونو کې لاسرسی درلودلی شي.

### مشاهدین/سیاسي ګوندونه/نوماندان/استاځي

مشاهدین، سیاسي ګوندونه او د کاندیدانو استاځي د ننوتلو له پاره ځانګړو اجازه لیکونو ته اړتیا لري.

- *مشاهدین.* هر باورلیک لرونکي سازمان ته درې اجازه لیکونه ورکول کیږي. اجازه لیکونه باید د ټاکنو د خپلواک کمیسیون له خوا ورکړل شوي د باور له کارت سره یو ځای وښودل شي.
- *نوماندان/سیاسي ګوندونه/استاځي.* هر سیاسي ګوند د درې اجازه لیکونو مستحق دی چې د ګوند د هر غړي یا باور ورکړل شوي استاځي له خوا تري ګټه پورته کیدای شي. اجازه لیکونه باید د سیاسي ګوند د غړو په صورت کې له ګوندي کارت، او د استاځو په صورت کې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون له خوا ورکړل شوي د باور له کارت سره یو ځای وښوول شي. د خپلواکو نوماندانو ستر شمیر ته په کتني سره د ټاکنو خپلواک کمیسیون نه شي کولی نوماندانو یا د نوماندانو استاځو ته د ننوتلو اجازه ورکړي.

اجازه لیکونه د همغږۍ اړوندو ناستو کې ویشل کیږي. هغه اداري چې له دې ناستو وړاندي د اجازه لیکونو غوښتنه کوي، کولی شي د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د بهرنیو اړیکو له ریاست سره اړیکي ونیسي.

### ځانګړي لیدونکي

د وزارتونو، سفارتونو، د مدني ټولني د سازمانونو او نورو ښکیلو غاړو په ګډون د هغو ښکیلو اړخونو په اړه چې د ټاکنو له خپلواک کمیسیون څخه یې باورلیکونه نه دي تر لاسه کړي، د ځاییت او امنیتي محدودیتونو په پام کې نیولو سره د هر صورت په هکله جلا، جلا پریکړه کیږي. د مشاهدینو او استاځو په څیر منل شویو ادارو ته هم یو ټاکلی شمیر اجازه لیکونه ورکول کیږي چې د اړوندې ادارې د هر غړي له خوا تري ګټه اخیستل کیدای شي. اجازه لیکونه باید د اړوندې ادارې له کارت سره یو ځای وښودل شي.

د اجازه لیکونو غوښتنه باید د اړیکو د لاندې معلوماتو په کارولو سره د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د بهرنیو اړیکو ریاست ته په لیکلې بڼه وړاندې شي. په غوښتنلیک کې د سازمان او د غوښتل کیدونکو اجازه لیکونو شمیر (له درې

څخه باید زیات نه وي) یادول اړین دي. د مهربانۍ له مخې د اجازه لیک د تر لاسه کولو لپاره ۷۲ ساعته انتظار وباسئ.

**اسانتیاوې**

- د رسنیو په مرکز کې د انټرنیټ محدوده اسانتیا شته.
- د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د انګړ د ننه د موټرو د درولو اجازه یوازې سیټلایټ موټرو او ځانګړو میلمنو ته ورکول کیږي. د نورو موټرو له پاره تمځای د ټاکنو د خپلواک کمیسیون له انګړ څخه بیرون ورکول کیږي.
- دري او انګلیسي ته د وقفه یي ژباړې او/یا هم مهاله ژباړې اسانتیا د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د رسنیو د مرکز له خوا وړاندې کیږي.
- د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د رسنیو مرکز ته راتلونکي کسان د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د انګړ نورو برخو ته د لاسرسي اجازه نه لري.
- د خوراک اسانتیاوې نه ورکول کیږي.

**امنیتي لایحه**

د رسنیو مرکز ته راتلونکي ټول کسان باید لکه څرنګه چې پورته یي یادونه شوې، له ځان سره د باور وړ اجازه لیک ولري او اجازه لیک باید تل په ښکاره ځای ځړول شوی وي. هغه لیدونکي چې اجازه لیک نه لري او له پورته ډلو څخه په کومه یوه کې نه راځي، باید د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د رسنیو مرکز ته د لاسرسي په هکله د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د بهرنیو اړیکو له ریاست سره اړیکه ونیسي. ټول لیدونکي باید مخکې له دې چې د رسنیو مرکز ته د ننوتلو اجازه ورکړل شي، ځان د تالاشي کیدو له پاره وړاندې کړي. انګړ ته ننوتونکي ټول موټر لږ تر لږه د سپي په وسیله تالاشی او د موټر د لاندې برخې کتنې سره مخامخ کیدونکي دي. د یادونې وړ ده چې د رسنیو مرکز ته د وسلې راوړل په کلک ډول منع دي او په دې برخه کې هیڅ استثناء نه ورکول کیږي.

**موقعیت او کاري ساعتونه**

| | |
|---|---|
| ادرس | د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د رسنیو مرکز په کابل کې د دغه کمیسیون په انګړ کې پروت دی. |
| کاري ساعتونه | عادي ورځې: شنبه څخه تر پنجشنبه؛د سهار ۹ بجې- د مازیګر ۴ بجې، |
| | د رای اچونې/شمیرنې/پایلو ورځې: د سهار ۹ بجې- د مازیګر ۶ بجې، شنبه- پنجشنبه |

**د زیاتو معلوماتو، او د لاسرسي د کارت د غوښتلو لپاره:**



| | | |
|---|---|---|
| **مرضیه صدیقي سلیم** | **کنشکا ساحل** | **سید وحیدالله هاشمي** |
| د رسنیو د اړیکو لوړپوړې مدیره | له مشاهدینو سره د اړیکو مسؤل | له سیاسي ګوندونو سره د اړیکو مسؤل |
| marzia.seddiqi@iec.org.af | kanishka.sahel@iec.org.af | Wahidullah.hashimi@iec.org.af |
| **موبایل:** 122 186 707 (0) 93+ | **موبایل:** 707185211 (0) 93+ | موبایل: 707186119 (0) 93+ |